آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۴/۲۴

# د پسرلي ښکلا

## خوشال پوهنه

### اشعار

### ۵

د خوشال خان له ټولو آثارو او د هغه وخت له تاریخونو داسې ښکاري چې خوشال په رښتیا سره خان او دا خاني له پلار او نیکونو ور ته په میراث پاتې وه. دی اته ویشت کلن و چې پلار یې له یوسفزیو سره په جنګ کې ټپي او مړ شو، وروسته د پلار له مرګه دی، له دود سره سم د قبیلې د مشر زوی په توګه د قبیلې مشري ور له غاړې شوه.
داسې هم وشول چې خوشال د ۱۶۴۸ ام میلادي کال په اپریل کې هند ته سفر وکړ او د دې سفر په ترڅ کې یې د خان خانان، مرزا ابوالحسن آصف خان، د کوم شانداره محل ننداره وکړه، د محل د باغونو او د باغونو د زړه وړونکو منظرو په ستاینه کې یې یوه قصیده لیکلې ده چې د ښکلو انځورونو درلودونکې ده، دلته به یې په منتخب ډول څو بیتونه را واخلم:

**چې موسم مې د ګلونو د ګلزار شي**
**نرم نرم ترشح په مرغزار شي**

**د هغه له بخته څوک برابري کا**
**چې په هسې وخت یې سیر په ګلزار شي**

**نن زما طالع له سره مدد کا**
**بخت دې هر کله دا هسې مددګار شي**

**چې مې ناسته د صورت په هسې ځای ده**
**چې ثنا یې په لته د هندو بار شي**

**په چمن کې یې اوبه درومي رواني**
**په سبزه باندې ناري د جویبار شي**

**په دا هسې پاکیزه اوبو سلسالو**
**شماتت یې د کشمیر په شاله مار شي**

**د سرې سترګې روښاني زړه خوشال کا**
**چې اوبه له فوارو سره تار تار شي**

**چې له پاسه نه اوبه راځي په کښته**
**وایی سپیني مرغلرې دي نثار شي**

**هغه ځای چې د مرمرو فوارې دي**
**ترغه ځای دې د ارم تماشه ځار شي**

**چې پر سر یې د حوضونو څوک ګذر کا**
**وایی پاس پر آیینو باندې رفتار شي**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**مرغاوۍ يې په حوضونو کې غوټې لي**
**د محل په مخ کې ناست د بازو ښکار شي**

**ته به وايې د نمرود د اور لمبې دي**
**سره لالا چې په چمن کې انتشار شي**

**په اطراف د هر چمن شګفته شوي**
**د زنبقو د سوسنو هم ديدار شي**

**په دا باغ کې د ګلونوکمی نه شته**
**د همه واړو د چا په ژبه شمار شي**

**که سل برګ، که بنفشه که ارغوان دي**
**د هر ګل په ننداره خاطر قرار شي**

**د هغه صانع تر صنعه صدقه شم**
**چې يې هسې د قدرت په لاس نګار شي**

**واړه ولې يې آسمان سره سيالي کا**
**ولې فرق په کې د ولې د چنار شي**

**په هزار رنګه نوا شي د مرغانو**
**هغه دم چې په چنارو کې چغار شي**

**عمارت يې ګچ وهلی په کې کړی**
**په هر کور کې د جويونو شرهار شي**

**دوه سو، تير سو رهروان دي په کې طرح**
**د سپی والی يې تيری په سپين چوتار شي**

**لطافت يې د هوا تر حده تير دی**
**په کې روغ به د اتيا کالو بيمار شي**

**دا مکان به د بهشت سره داخل کا**
**که رضوان يې له نشاطه خبر دار شي**

**همګي صفت يې تير دی تر حسابه**
**له همه وو که ويل کوم طومار شي**

**دا بنا د آصف خان له لاسه شوې**
**اوس په حکم د خُرم په کې دا کار شي**

**زر اته پنځوس کلونه د هجرت وو**
**د نوروز په دولسم چې دا کفتار شي**

**په خوشال و، همدا هومره چې ويل شول**
**نور د عقل حکم نه دی چې تکرار شي**

(د خوشال کليات، د زاهد مشواڼي اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۴۶۱ـ ۴۶۲ مخونه)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ